DTM AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټيزه ارزونه

کندهار
د پايلي لنډيز
اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸



په کندهار ولايت کې او بيا په خاصه توګه د ميوند درې ورلسوالۍ داخلي بېځايه شويو تر منځ پناه ځای ته اړتيا ډېره ليدل کېږي.
© ۲۰۱۸ IOM

## د بېځايه کېدوونکو د تعقيب سيستم (DTM)

د بېځايه کېدوونکو د تعقيب سيستم داسې يو سيستم دی چې د خلکو د بېځايه کېدنې او تحرک له بهير څخه تعقيب او څارنه کوي. دا سيستم په سيستماټيک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سيمه او يا لاره کې د بېځايه شويو خلکو هغه اړتياوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

په افغانستان کې، DTM د تحرک د ارزونې بنسټيزه وسيله کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه، د جبري بېځايه شويو کسانو د نفوس کچه او موقعيت تشخيص، د بېځايه کيدو علت، اصلی سيمې، د بېځايه کېدو مهال، لومړني ډيموګرافيکي معلومات، زيانمنتياوې او د اړتياوو د لومړيتوبونو څخه څارنه وکړي. معلومات د کليو په کچه د ډله ايزو بحثونو، مخامخ کتنو او کليدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړيوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پياوړتيا ورکوي چې سرچينې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړيتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پايدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بيا يوځای کېدنې، ثبات او پراختيا څخه ډاډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعيتونه

DTM د تحرکاتو بنسټيزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعيتونو کټګوريو موقعيت، نفوس او څو سکټوريزې اړتياوې څاري:

۱. بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ مياشتو لپاره د هيواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنيو هېوادونو ته تللي او يا کډه يې کړې وي

داخلي بېځايه شوي په لاندې درېو کټګوريو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې

د ارزول شويو کليو څخه هغه افغانان چې د داخلي بېځايه شويو په توګه يې خپلې سيمې پرېښې ترڅو د افغانستان دننه په يوې بلې سيمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان

د نورو سيمو څخه داخلي بېځايه شوي کسان چې اوسمهال په يوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شويو کليو څخه پخوا د داخلي بېځايه شويو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعيتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځايه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

په ۲۰۱۸ کال کې د بودجوي محدوديتونو او د داخلي بېځايه شويو او راستنېدونکو ټيټ شمېر له امله کندهار ولايت ارزول شوی نه وه. له دې کبله د ۲۰۱۸ کال لپاره د راپور ورکونې هېڅ معلومات نشته او په پايله کې يې په دې راپور کې ټول چارټونه د ۲۰۱۸ کال معلومات صفر ښيي.

**۱۶** ولسوالۍ وارزول شوې

**۳۸۴** کلي وارزول شول

**۲،۰۹۶**
کليدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۷۶،۳۸۸**
بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۸۱،۵۱۱**
داخلي بېځايه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۸۷،۹۹۲**
پخواني داخلي بېځايه شوي کسان اوس خپلو سيمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۶،۵۵۹**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۵۶**
کسان اروپايي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ۱٪)

**۱۱،۹۴۶**
راستنيدونکي او داخلي بېځايه شوي په خېمو او يا آزاده فضا کې ژوند کوي – کندهار ولايت د هېواد په کچه پناه ځای ته د اړتيا څلورم تر ټولو لوړ شمېر لري

**۴ څخه ۱**
۲۴٪ کورنۍ ښوونځيو ته هېڅ لاسرسی نلري – کندهار ولايت د هېواد په کچه ښوونځيو ته د اړتيا دوم تر ټولو لوړ شمېر لري

**۹۷,۰۸۰**
کسان کندهار ولايت کې بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۵ څخه ۲**
کسان (۳۷٪) د ټولو راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو له ډلې په کندهار ولايت کې ژوند کوي

**۲۳،۵۷۱**
کسان په سپين بولدک ولسوالۍ کې د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري (۶۳٪)

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولسوالیو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالی | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + راسپړلي داخلي بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې | د نفوس سلنه | راسپړلي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کندهار | ۶۴۵،۴۳۹ | ۹۴،۶۳۱ | ٪۱۳ | ۲۵،۱۷۶ | ٪۳ | ۳۷۳ | ٪۰ | ۶۹،۴۵۵ | ٪۹ | ۲،۴۹۸ | ٪۰ | ۱،۶۳۵ | ٪۰ |
| ارغنداب | ۶۷،۶۲۲ | ۱۴،۴۹۱ | ٪۱۸ | ۲،۱۲۹ | ٪۳ | ۲،۵۴۳ | ٪۴ | ۱۲،۳۶۲ | ٪۱۵ | ۵،۰۳۰ | ٪۷ | ۴۴۲ | ٪۱ |
| ژړی | ۹۳،۶۶۹ | ۱۸،۱۸۱ | ٪۱۶ | ۵،۳۷۵ | ٪۵ | ۶،۰۱۸ | ٪۶ | ۱۲،۸۰۶ | ٪۱۱ | ۹،۶۰۲ | ٪۱۰ | ۹۰۱ | ٪۱ |
| پنجوائی | ۹۵،۰۸۲ | ۳۸،۵۹۶ | ٪۲۹ | ۱۳،۰۹۹ | ٪۱۰ | ۳۹،۰۰۷ | ٪۴۱ | ۲۵،۴۹۷ | ٪۱۹ | ۵۷،۷۱۴ | ٪۶۱ | ۲،۸۲۸ | ٪۳ |
| داman | ۳۷،۸۵۳ | ۱۲،۹۳۴ | ٪۲۵ | ۳،۰۶۹ | ٪۶ | ۳۳۵ | ٪۱ | ۹،۸۶۵ | ٪۱۹ | ۲۴۰ | ٪۱ | ۰ | ٪۰ |
| شاه ولی کوټ | ۴۷،۳۴۹ | ۴،۴۶۸ | ٪۹ | ۱،۳۱۴ | ٪۳ | ۱۶،۶۷۹ | ٪۳۵ | ۳،۱۵۴ | ٪۶ | ۵،۵۵۰ | ٪۱۲ | ۹۷۱ | ٪۲ |
| خاکریز | ۲۴،۸۹۳ | ۲،۱۷۳ | ٪۸ | ۲۵ | ٪۰ | ۱۷،۹۹۸ | ٪۷۲ | ۲،۱۴۸ | ٪۸ | ۴۱۴ | ٪۲ | ۴۸ | ٪۰ |
| میوند | ۶۴،۰۳۰ | ۱۶،۸۱۰ | ٪۲۱ | ۴،۱۴۰ | ٪۵ | ۱۶،۸۸۹ | ٪۲۶ | ۱۲،۶۷۰ | ٪۱۶ | ۳،۰۵۲ | ٪۵ | ۵۳۷ | ٪۱ |
| ریګ | ۹،۷۵۲ | ۵،۲۸۵ | ٪۳۵ | ۴،۴۳۰ | ٪۲۹ | ۹،۲۴۵ | ٪۹۵ | ۸۵۵ | ٪۶ | ۰ | ٪۰ | ۲،۴۱۳ | ٪۲۵ |
| شورابک | ۱۲،۵۷۵ | ۶،۳۶۵ | ٪۳۴ | ۶،۱۸۵ | ٪۳۳ | ۷،۰۰۲ | ٪۵۶ | ۱۸۰ | ٪۱ | ۱۵۰ | ٪۱ | ۲،۱۶۰ | ٪۱۷ |
| سپین بولدک | ۱۲۳،۶۹۴ | ۳۷،۱۶۵ | ٪۲۳ | ۸،۷۵۸ | ٪۵ | ۱۰،۹۴۹ | ٪۹ | ۲۸،۴۰۷ | ٪۱۸ | ۲،۰۹۶ | ٪۲ | ۲،۴۰۳ | ٪۲ |
| ارغستان | ۳۷،۵۹۶ | ۲،۶۳۱ | ٪۷ | ۱،۹۹۴ | ٪۵ | ۱۰،۷۸۷ | ٪۲۹ | ۶۳۷ | ٪۲ | ۵۶۰ | ٪۱ | ۲۲۴ | ٪۱ |
| میانشین | ۱۶،۴۲۴ | ۶۵ | ٪۰ | ۵۴ | ٪۰ | ۹،۹۰۱ | ٪۶۰ | ۱۱ | ٪۰ | ۱۸۳ | ٪۱ | ۱۷۵ | ٪۱ |
| نېش | ۱۴،۶۲۷ | ۲،۶۹۷ | ٪۱۶ | ۴۵ | ٪۰ | ۱۷،۸۰۲ | ٪۱۲۲ | ۲،۶۵۲ | ٪۱۵ | ۳۶۴ | ٪۲ | ۲۰۵ | ٪۱ |
| غورک | ۱۰،۵۲۲ | ۸۱۲ | ٪۷ | ۰ | ٪۰ | ۱۸،۳۱۲ | ٪۱۷۴ | ۸۱۲ | ٪۷ | ۵۳۹ | ٪۵ | ۷۰ | ٪۱ |
| معروف | ۳۶،۰۵۶ | ۵۹۵ | ٪۲ | ۵۹۵ | ٪۲ | ۱۲،۴۲۶ | ٪۳۴ | ۰ | ٪۰ | ۰ | ٪۰ | ۱،۵۴۷ | ٪۴ |
| مجموعه | ۱،۳۳۷،۱۸۳ | ۲۵۷،۸۹۹ | ٪۱۶ | ۷۶،۳۸۸ | ٪۵ | ۱۹۶،۲۶۶ | ٪۱۵ | ۱۸۱،۵۱۱ | ٪۱۱ | ۸۷،۹۹۲ | ٪۷ | ۱۶،۵۵۹ | ٪۱ |

** د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائي او معلوماتو ملي اداري (NSIA) اټکل  سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≤ ۲۰۰،۰۰۰  د نفوس سلنه ≤ ۲۵٪



په کندهار ولایت کې پناه ځای ته د ارتیا لوړ شمېر لیدل کېږي – ډېری داخلي بېځایه شوي او راستنېدونکي کورنۍ د کوم پناه ځای پرته په آزاده فضا کې ژوند کوي. په میوند دره ولسوالۍ کې د دې کورنۍ په شان ډېرې نورې کورنۍ د ژوندانه لپاره یوه خیمه هم نلري.© IOM ۲۰۱۸

## تګلار

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځایه کېدنې تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځایه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځایه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځایه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړي د سیمه ایزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کلیدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیتي معلومات راټولوي. سیمه ایز کارکوونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټلیفونونه یا ټابلیټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجود معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجستر کوونکي له لوري تري کتنه او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړي ځل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B۱): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زیات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې وړ جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کلیو په کچه ارزونه (B۲): دا ارزونه د B۱ ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلیو او وتلیو افغان وګړو په اړه د موخې وړ جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B۱ په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د ځو سکټوریزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو هغوي غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کارکونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جنډر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. که څه هم په کندهار ولایت کې د ټولنیزو حساسیتونو له امه هېڅ ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي نه وې.

**۲،۰۹۶**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۳۱۲**
کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنیدونکي دي او یا هم داخلي بېځایه شوي (۱۵٪)

**۰**
ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي

**۸۸۴**
له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۴۲٪)


**۲،۰۹۶**
نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۱۰۰٪)

**۸۱**
ځو سکټوریز او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۴٪)


**۵,۵**
په هرې ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۸۱۱**
له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۹٪)

د ډول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | کندهار




د ډول او جنسیت پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | کندهار



# بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنيو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو مياشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شويو سيمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هيوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بيا UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو ته يې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او يا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنيو هېوادونو څخه کندهار ولايت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ٪۵۳ کموالی شيي او په ۲۰۱۷ کال کې ٪۲۵ کموالی شي. په ۲۰۱۸ کال کې کندهار ولايت ارزول شوی نه وه له دې امله د ۲۰۱۸ کال لپاره د راستنېدونکو هېڅ معلومات نشته (ټول چارټونه د ۲۰۱۸ کال معلومات صفر ښيي).

**۷۶،۳۸۸**
بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي

**۶۹,۹۵۴**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۹۲٪)


**۶۰،۲۴۶**
له ايران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنيدونکي (۷۹٪)

**۶،۴۳۴**
ايران څخه راستنيدونکي (۸٪)


**۱۶،۱۴۲**
له ايران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنيدونکي (۲۱٪)

**۰**
غير ګاونډيو هېوادونو څخه راستنيدونکي


بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي | کندهار





بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي | کلنی بهير | کندهار





د ولسوالۍ پر بنسټ بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي | کندهار




ايران څخه راستنېدونکي | کلنی بهير | کندهار




پاکستان څخه راستنېدونکي | کلنی بهير | کندهار



# رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنـی یا وسله والو جګړو، تاوتریخوالی، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښنې او د طبیعي پیښو یا د انسان په لاس جوړې شویو پیښو څخه د خوندیتوب په موخه خپلو سیمو څخه بېځایه شوي دي او ارزول شوېو/ کوربه ټولنو ته تللي او هلته ژوند کوي. په ۲۰۱۸ کال کې کندهار ولایت ارزول شوی نه وه او له دې امله د ۲۰۱۸ کال لپاره د رارسېدلیو داخلي بېځایه شویو هېڅ معلومات نشته (ټول چارټونه د ۲۰۱۸ کال معلومات صفر ښیي).

**۱۸۱،۵۱۱**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان

**۸۳٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي


**۶۹،۴۵۵**
کندهار ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان – د ولایت په کچه تر ټولو لوړ شمېر

**۱۷٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي


**۵،۱۰۹**
داخلي بېځایه شوی په غیر رسمي سیمو کې مېشت دي (۶٪)

**۵۷٪**
په خپل اصلي ولایت کې بېځایه شوي


رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | کلنی بهیر | کندهار





د اصلي ولایت پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | کندهار





د ولسوالی پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | کندهار





د ولسوالی پر بنسټ غیر رسمي سیمو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان | کندهار




رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | پناه ځای | کندهار



# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)





## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډیز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| کندهار | ۲۵,۱۷۶ | ۶۹,۴۵۵ | ۹۴,۶۳۱ |
| پنجوائی | ۱۳,۰۹۹ | ۲۵,۴۹۷ | ۳۸,۵۹۶ |
| سپین بولدک | ۸,۷۵۸ | ۲۸,۴۰۷ | ۳۷,۱۶۵ |
| ژېړی | ۵,۳۷۵ | ۱۲,۸۰۶ | ۱۸,۱۸۱ |
| میوند | ۴,۱۴۰ | ۱۲,۶۷۰ | ۱۶,۸۱۰ |
| ارغنداب | ۲,۱۲۹ | ۱۲,۳۶۲ | ۱۴,۴۹۱ |
| دامان | ۳,۰۶۹ | ۹,۸۶۵ | ۱۲,۹۳۴ |
| شورابک | ۶,۱۸۵ | ۱۸۰ | ۶,۳۶۵ |
| رېګ | ۴,۴۳۰ | ۸۵۵ | ۵,۲۸۵ |
| شاه ولی کوټ | ۱,۳۱۴ | ۳,۱۵۴ | ۴,۴۶۸ |
| نېش | ۴۵ | ۲,۶۵۲ | ۲,۶۹۷ |
| ارغستان | ۱,۹۹۴ | ۶۳۷ | ۲,۶۳۱ |
| خاکرېز | ۲۵ | ۲,۱۴۸ | ۲,۱۷۳ |
| غورک | ۰ | ۸۱۲ | ۸۱۲ |
| معروف | ۵۹۵ | ۰ | ۵۹۵ |
| میانشین | ۵۴ | ۱۱ | ۶۵ |
| عمومي مجموعه | ۷۶,۳۸۸ | ۱۸۱,۵۱۱ | ۲۵۷,۸۹۹ |


په عمومي توګه کندهار ولایت له ټولټال ۲۵۷،۸۹۹ راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي چې ۳۰٪ (۷۶،۳۸۸ کسان) راستنېدونکي او ۷۰٪ (۱۸۱،۵۱۱ کسان) داخلي بېځایه شوي دي. په لاندې جدول کې د کندهار ولایت ۲۰ کلي ښودل شوي چې ترټولو زیاتو بېځایه شویو او راستنېدونکو راتګ څخه اغېزمن شوي. دا ۲۰ کلي (د کندهار ولایت ۳۸۴ ارزول شویو کلیو څخه ۵٪) د ټول ولایت ۵۰٪ راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي. دا کلي د ټولنو بې ثباتۍ پر وړاندې چې د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو لوړ شمېر راتګ سره رامنځ ته شوې حساس او زیانمن دي او دا کار له پخوا نه محدودې شوې سرچینې او کاري فرصتونو لا نور هم محدود کوي. له دې ۲۰ زیانمنو کلیو څخه ۱۳ کلي یې په کندهار ولسوالۍ کې موقعیت لري او د دې جدول ۵۶٪ (۷۲,۰۳۲) راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي.

## ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلی بېځایه شوي لري

| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | معروفیان کلی | سپین بولدک | ۲۲,۳۹۵ |
| ۲ | تولوکان | پنجوائی | ۱۴,۹۱۰ |
| ۳ | ګندیګن | کندهار | ۱۳,۵۵۰ |
| ۴ | کرز | کندهار | ۱۳,۵۴۰ |
| ۵ | شاه ولی کوت پمپ | کندهار | ۵,۸۱۰ |
| ۶ | الف ساحه لوی واله | کندهار | ۵,۵۲۰ |
| ۷ | حلال چوک | کندهار | ۵,۳۵۰ |
| ۸ | نوی کلی | سپین بولدک | ۵,۰۷۵ |
| ۹ | صالحان | پنجوائی | ۴,۶۱۵ |
| ۱۰ | ده مسوس | کندهار | ۴,۲۳۱ |
| ۱۱ | شیر سرخ بابا | کندهار | ۳,۶۹۵ |
| ۱۲ | تیر اده | کندهار | ۳,۶۵۰ |
| ۱۳ | ریګریشن | کندهار | ۳,۶۳۰ |
| ۱۴ | شهر نو (ګذر ۴) | کندهار | ۳,۶۲۶ |
| ۱۵ | حکیم صاحب اده (ګذر ۶) | کندهار | ۳,۶۲۰ |
| ۱۶ | زنګ آباد (۲) | پنجوائی | ۳,۳۶۷ |
| ۱۷ | اردو زی | ژېړی | ۳,۱۱۵ |
| ۱۸ | چهل متره جاده (ګذر ۴) | کندهار | ۲,۹۷۰ |
| ۱۹ | بالامبی | پنجوائی | ۲,۹۰۵ |
| ۲۰ | میرزا محمد کلاچه | کندهار | ۲,۸۴۰ |
| | | مجموعه | ۱۲۸,۴۱۴ |




د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)




د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي


دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه چې هلته یې پخوا ژوند کاوه د افغانستان دننه یوې بلې سیمې ته تللي دي تر څو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب اندیښنې او طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړو شویو پېښو څخه خوندي ووسي. په ۲۰۱۸ کال کې بلخ ولایت ارزول شوی نه وه له دې امله د ۲۰۱۸ کال لپاره د هغو داخلي بېځایه شویو په اړه چې خپل اصلي سیمې یې پرېښي هېڅ معلومات نشته (ټول چارټونه د ۲۰۱۸ کال معلومات صفر ښيي).


**۱۹۶،۲۶۶**
داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي


**۸۶٪**
په عین ولایت کې نورو سیمو ته تللي دي

**۶۸٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي

**۳۲٪**
د طبیعی پېښو له امله بېځایه شوي



د هغو داخلي بېځایه شویو اصلي ولسوالۍ کانې چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي

# راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان


راستانه شوي داخلي بېځایه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سیمو ته چې ارزول شوې سیمې دي او پخوا یې پرېښې وې بیرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سیمو څخه تللي ول ترڅو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندېښنې او طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړ شویو پېښو له اغېزو څخه خوندي ووسي. په ۲۰۱۸ کال کې بلخ ولایت ارزول شوی نه وه له دې امله د ۲۰۱۸ کال لپاره د هغو داخلي بېځایه شویو په اړه چې خپل اصلي سیمې یې پرېښې هېڅ معلومات نشته (ټول چارټونه د ۲۰۱۸ کال معلومات صفر ښیي).


**۸۷،۹۹۲**
راستانه شوي داخلي بېځایه شوي


**۶۶٪**
وګړي د ولایت دننه نورو سیمو څخه راستانه شوي

**۴ څخه ۳**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان یوازې ۲ ولسوالیو ته راستانه شوي: پنجوائی او ژېړی (۷۷٪)

**۵ څخه ۳**
د ټولو راستانه شویو داخلي بېځایه شویو له ډلې ۶۶٪ کسان پنجوائی ولسوالۍ ته راستانه شوي



د راستانه شویو داخلي بېځایه شویو د راستنېدو ولسوالۍ کانې

# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه د هر دلیل، عامل او یا مودې لپاره له هېواد څخه بهر تللي او یا کډوال شوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښتونکي، بېځایه شوي، کډوال او هغه کسان شامليږي چې افغانستان یې د اقتصادي ستونزو له امله پرېښې وي. په ۲۰۱۸ کال کې بلخ ولایت ارزول شوی نه وه له دې امله د ۲۰۱۸ کال لپاره د کډوالو هېڅ معلومات نشته (ټول چارټونه د ۲۰۱۸ کال معلومات صفر ښيي)


**۱۶،۵۵۹**
د هېواد څخه بهر تللي دي

**۱۵۶**
اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۱٪)


**۱،۱۲۳**
ایران ته تللي دي (۷٪)

**۱۵،۲۷۲**
پاکستان ته تللي دي (۹۲٪)


بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | کندهار





د ولسوالۍ پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کندهار





ترکیه او اروپایی هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | کندهار





ایران ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | کندهار




د هېواد پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان/د موخې سیمه | کندهار




پاکستان ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | کندهار



# سکټوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یاددښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

**پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري** (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | کندهار | ۹۴,۶۳۱ |
| ۲ | پنجوائی | ۳۸,۵۹۶ |
| ۳ | سپین بولدک | ۳۷,۱۶۵ |
| ۴ | ژړی | ۱۸,۱۸۱ |
| ۵ | میوند | ۱۶,۸۱۰ |
| | عمومي مجموعه | ۲۰۵,۳۸۳ |

**پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري** (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | ریګ | ۵,۱۴۱ |
| ۲ | شورابک | ۴,۲۸۰ |
| ۳ | سپین بولدک | ۱,۰۱۹ |
| ۴ | ارغنداب | ۵۸۹ |
| ۵ | نېش | ۳۰۷ |
| | عمومي مجموعه | ۱۱,۳۳۶ |

**پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري** (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | سپین بولدک | ۲۳,۵۷۱ |
| ۲ | ارغستان | ۶۳۰ |
| ۳ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | عمومي مجموعه | ۲۴,۲۰۱ |

**پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې روغتیايي ځانګو ته اړتیا لري** (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | کندهار | ۲۴,۴۶۶ |
| ۲ | داماڼ | ۱۲,۹۳۴ |
| ۳ | پنجوائی | ۱۰,۰۴۴ |
| ۴ | سپین بولدک | ۷,۰۵۴ |
| ۵ | شورابک | ۶,۳۶۵ |
| | عمومي مجموعه | ۶۰,۸۶۳ |


**پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځۍ ته اړتیا لري** (تر ټولو نیږدې ښوونځۍ >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | کندهار | ۱۷,۱۲۱ |
| ۲ | پنجوائی | ۶,۵۸۴ |
| ۳ | شورابک | ۶,۳۶۵ |
| ۴ | ژړی | ۶,۰۵۷ |
| ۵ | ریګ | ۵,۲۸۵ |
| | عمومي مجموعه | ۴۱,۴۱۲ |

**پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري** (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | کندهار | ۳۸,۲۴۱ |
| ۲ | پنجوائی | ۲۳,۴۵۹ |
| ۳ | داماڼ | ۱۲,۹۳۴ |
| ۴ | شورابک | ۶,۳۶۵ |
| ۵ | ریګ | ۵,۲۸۵ |
| | عمومي مجموعه | ۸۶,۲۸۴ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | کندهار




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### پخوانۍ بندي او کډوال خپل کور ته د بیا ستنېدو لپاره خوښ دی

نورالله دراني د کندهار په ولایت کې د یو کلي اوسېدونکی دی. هغه پخوا د پاکستان پولې ته نږدې په داسې یوې سیمې کې ژوند کاوه چې د سوداګرۍ ټرانسپورټ له دې لارې کېده. دا سیمه د نظامي فعالیتونو مرکز هم وه. په ۲۰۱۱ کال کې بلواګرو په دې کلي برید وکړ، سړکونه یې وتړل او د نورالله په ګډون یې سلګونه کسان بندي کړل.

نورالله ونیول شو او د ۲۴ ورځو لپاره بندي شو. په همدې وخت کې د هغه کورنۍ هم د بلواګرو د ځواکمنې له بدو اغیزو څخه اغیزمنه وه. په دې وخت کې خواړو او روغتیایي مرکزونو ته لاسرسی محدود شو او سیمه ایز بازارونه د لنډ مهال لپاره وتړل شول. کله چې نورالله خوشې شو هغه خپلې ښځې او اولادونو سره له افغانستان څخه د پاکستان د کوټه ښار په لور ولاړ.

کله چې هغوی د پاکستان د پولې چارواکو له لورې ونیول شول نو نورالله هغوی ته د پیسو ورکولو وروسته خوشې شو. هغوی په پاکستان کې ځای پر ځای شول. نورالله د ختګر په توګه مزدورکاري پیل کړه. هغه به د ورځې ۴۰۰ کلدارې لاس ته راوړلې چې دا پیسې د خواړو، کرایه او د لور د درمل لپاره چې سینه بغل ناروغې باندې اخته وه بسنه نه کوله.

د وخت په تېرېدو سره د هغوی ستونځې لا هم زیاتې شوې او ژوند یې بدلون وکړ. هغوی په ۲۰۱۶ کال کې د پاکستاني چارواکو له خوا ونیول شول او بیرته افغانستان ته ډیپورټ شول. هغوی د ۲۰۱۶ کال ۱۷،۹۱۸ راستنېدونکو له ډلې څخه ول چې له پاکستان څخه راستانه شوي ول. په همدې کال کې هغوی خپل کلي ته ستانه شول چې دې کار د هغوی ژوند ته مثبت بدلون راوسته. نورالله وکولای شو په خپلې پخوانۍ ځمکه کې کار پیل کړي او ماشومان یې هم په ښوونځې کې شامل شول.

دراني کورنۍ ځان طالع مند او خوش ګڼي ځکه چې په خپل وطن کې په امنیت او سوکالۍ کې ژوند کوي.

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوۍ خوندي ووسي.



نورالله خوښ دی چې له خپلې کورنۍ سره پاکستان څخه کندهار ولایت ته راستون شوی ځکه چې هغه اوس کولای شي کار وکړي او خپل ماشومان ښوونځي ته ولېږي. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغـه معلومـات چـې پـه دې راپـور کې کارول شـوي د IOM-افغانسـتان سـازمان او د DTM نړیـوال ملاتـړ ټیـم پـه ګـډې همـکارۍ راټول شـوي دي. هغـه مسـایل او توکي چـې د کار پـه تـرڅ کـې کارول شـوي پـه هېڅ بنـه د کـوم هېـواد قانوني حالـت، ملکیت، سـیمه او یـا هم د هغـه د چارواکـو او یـا مرزونـو پـه هکلـه د کډوالۍ د نړیوال سـازمان له هېڅ نظـر یا باورونو پورې اړونـد ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشـو، ډېټابېسـونو، متحرکو نقشـو او داشـبورډونو تـه د لاسرسي لپـاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانسـتان انټرنټـي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي

په همغږي سره

Co-funded by the European Union